
# یوفاز اوسه فازڅه ته وایي

Ketabton.com



لیکوال: انجینرجلیل خان آرمان

د تماس شمیره: ۰۷۰۵۷۶۰۱۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library


# یوفازاو سه فازڅه ته وایي؟

تاسو به د الکټریکل له حوالې څه یو فاز یا سنګل فیز(single phase) یا سه فاز یا تهری فیز (three phase) نوم به اوریدلی وي . نو په همدا خاطر په دغه لیکنه زه تاسو ته د یو فاز او سه فاز توله پروسه به واضح کړم . دا د فاز او سه فاز مطلب څه وي او د دواړو تر منځ کوم فرق موجود دی؟

تر ټولو دمخه به په دغه موضوع بحث وکړو چي phase څه ته وایي ، ددې لغات معنا څه ده؟

په تاسو کې به اکثرو په رهایشی کالونیانو  په اړه به اوریدلی وي چي دا فلانکي کالوني phase one یا اول فیز دی ، دا phase ۲ دی او په همداغه سی یو بل مثال هم ورکول کیږي فلانکی کس په ډېر غټ غم اخته دی او دی تر اوسه له دې فیز phase څخه راوتلی نه دی.

نو  په انګلیسی قاموس یا لغاتنامه کې د phase لغات معنا حالت وي. اوس نو موږ په دې پوهیږو چي د هر شي څخه د برق جریان تیرولو لپاره یا د یو لوډ د فعاله کولو لپاره که هغه یو ګروپ وي ، فنکه وي ، د کالو پریوللو ماشین وي او داسی نور شیانو لپاره ۲ لینونو ته ضرورت وي ، یوه ته موږ د فاز لین یا ګرم لین وایو او دویم لین کوم چي په تور رنګ سره ښودل شوی وي دې ته نیوټرل(neutral) یا سوړ لین هم وایي.





فیز لین یا د فاز لین ته د فاز وایلو لامل دا دی چي په دې لین کي جریان روان وي ،نو دجریان تیریدل یا روانیدل یا د جریان سفر کول ، دا یو حالت وي او دا جریان له فیز یا فاز څخه په تللو سره د مطلوب لوډ په فعاله کولو سره  د نیوټرل یا نول لین په واسطه بیرته راسي. نو ګویا دا چي په فاز کي جریان را روان وي او له نیوټرل څخه بیرته روان وي او د برېښنا په ژبه کي دغه پروسې ته د سرکیټ نوم ورکړل شوي.

په نني دور کي په نړۍ کي د  supply دوه ډوله سیستمونه شتون لري .


یو ته موږ single phase supply وایو او دویم ته three phase supply وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په single phase supply کي له موږ سره دوه لینه وي یو فاز او بل نول ، نو په همدي خاطر دي ته دوه لینه





سیستم( 2 wire system) هم وایي. دویم supply کوم ته چي موږ three phase supply وایو ، په دغه supply کي ۳ لینونه د فاز او یو لین د نول یا نیوټرل وي او ددغه سیستم لپاره وروسته د کنکشن له لحاظه ۲ ډولونه شتون لري.




- ***ستاره کنکشن(star connection)***
- ***مثلث کنکشن(delta connection)***


ستاره کنکشن کي د لینونه چي په کوم ترتیب سره بسته شوي وي دي ته موږ ۳ فازه ۴ لینه سیستم(three phase 4 wire system) وایو او په




مثلث کنکشن کي لینونه چي په کوم ترتیب سره بسته شوي وي دي ته موږ ۳ فازه ۳ لینه سیستم ( three phase 3 wire system)وایو.

***یادونه:*** دلته موضوع یو څه ژوره کیږي ، تاسو باید چي ډېر پام وکړی.

ګرانو ملګرو د برقي ټکنالوژي چي کوم مکمل علم دي یا ټوله بنیاد چي پې دي ،هغه په ۳ ډولو ماشینانو باندي ولاړ دی یعني دغه ۳ ماشینونه د برقي ټکنالوژي د شمزۍ د هډوکی په څیر دي او دغه ۳ ماشینونه عبارت دي له :




- ***جینراتور(generator)***
- ***موتور(motor)***
- ***ټرانسفرمر(transformer)***

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همداسې ډول دغه ۳ ماشینونه هم  هر یو په ۲ ډولونو ویشل شوي لکه یو فازه موتور( single phase motor)، سه فازه موتور(3 phase motor) ، یو فازه جینراتو(single phase generator) ، سه فازه جینراتور(three phase generator) ، یو فازه ټرانسفرمر(Single phase transformer) ، سه فازه ټرانسفرمر(three phase transformer)




دلته جینراتور برېښنا تولیدوي ، ټرانسفرمر د جینراتور په واسطه تولید شوي برېښنا کنټرول کوي او موتور همدغه تولید شوې او کنټرول شوې برېښنا استعمالوي.

په بنیادي توګه هر څومره چې جینراتورونه وي کوم چې په power house او powerplant کې بسته وي ، کوم چې برېښنا تولیدوي ، د کوم اندازه ګیري چې په میګا واټ سره کیږي دا ټوله سه فازه جینراتورونه وي.



اوس نور هغه کوچني جینراتورونه کوم چې موږ په عارضي توګه په خپلو کورونو کې ترې استفاده کوو ټوله یو فازه جینراتورونه وي.




دا غټ او سه فازه جینراتورونه چې وي کوم چې په power house او powerplant کې بسته وي ، دا همیشه په ستاره کنکشن سره بسته وي.

یعني په دوي کې د هر یو جینراتور له داخل څخه ۴ لنیه راوځي ، په کوم کې چې ۳ لینه د فاز او یو لین د نیوټرل یعني د نول وي.




اوس نو ددغه جینراتور په واسطه تولید شوې برېښنا د ښار و لیري لیري ځّایونو ته د رسولو لپاره ،د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټرانسمیټ کولو لپاره ،د ټرانسمیشن لپاره موړ یوازې د ۳ فازه لینونو څخه استفاده کوو یعنې ۳ لینه استعمالوو او د څلورم لین مصرف وساتو یعني برېښنا دغه ټوله انتقال چې دلته ترسره کیږي هغه موړ په مثلث کنکشن باندي تر سره کوو یعني 3 phase 3 wire system دلته استعمالوو ،لکه




څرنګه چې تاسو په غټو غټو ټرانسمیشن ټاورونو باندي لیدلې وي چې په دوي چې یوازي ۳ لینه روان وي یا ۳ لینه استعمال شوي وي.




اوس نور په power house او powerplant کې د جینراتور په واسطه تولید شوې برېښنا د ټاورونو او لینونو په واسطه چې کله زموږ د کورونو یا محلونو د باندي لګیدلي ټرانسفرمرونو ته را ورسیږي ، نو موږ دلته کنکشن یو ځل بیا ستاره ته واړوو یعني کنکشن یو ځل بیا three phase 4 wire system ته تبدیل کړو دا ځکه چې دلته زموږ نیوټرل یعني د نول لین په کار وي د خپل کورنی سامان د فعاله کولو لپاره .نو موږ دلته دا وایلی سو چې ټرانسمیشن ټوله په three phase 3 wire سیستم کې بسته وي او distribution ټوله په three phase 4 wire system باندي بسته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانو لوستونکو تاسو به د خپل کورونو باندي بسته شوي خادې به ليدلي وي په دوي کي ځيني خادې سيمنټي وي ، د کوم جګوالی چي يو څه زيات وي او ځيني اوسپنيزي خادې وي د کوم جګوالی چي يو څه کم وي.






اوس نو که تاسو له سمينټو څخه جوړو خادو يا سمينټو خادو ته پام کړی وي په دوي کي ۳ لينه په موازي توګه روان وي او په دوي کي ولټيج 11kv وي يعني دا د 11kv کرښي وي کوم چي په three phase 3 wire کي بسته او روان وي.





اوس دغه 11kv و استعمالوونکو ته د استعمال قابل جوړولو لپاره د ټولو محلونو او کالونيانو د باندي يو ټرانسفرمر بسته وي کوم چي step down ټرانسفرمر وي کوم چي دغه 11kvبرېښنا په 400v يا 220v باندي بدل کړئ او وروسته سيسټم يو ځل بيا three phase 4 wire system ته واوړئ او دلته نور د distribution يعني د توزيع پيل وشي او ددغه کار لپاره اوسپنيزو خادو څخه استفاده کيږي.په کوم کي چي تاسو به ليدلی وي چي ۴ لينه په عمودي توګه روان وي او دغه سيسټم ته three phase 4 wire system وايي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




نو اوس په دغه څلورو لینونو کي لومړني د سر ۳ لینه د فازو لینونه وي ،د کوم واضاحت چي موږ په سور(red) ژیړ(yellow) او شین(blue) رنګ سره کړی وي او تر ټولو آخیرنی لین چي په تور رنګ (black)سره ښودل شوي وي دا د نیوټرل یا نول لین وي او ددغه علاوه په ځینو رهایشي محلونو کي پنځم لین هم ورسره بسته وي. کوم چي د محلي څراغونو لپاره وي.





ګرانو لوستونکو هر څومره سه فازه استعمالوونکي چي وي هغوي ته مستقیما د همدغو ۴ لینونو په واسطه د یو 4 core کیبل په واسطه یو سه فازه میټر په بسته کولو سره برېښنا ورکول کیږي.




اوس نو کوم یو فازه مشتریان چي وي هغوي ته یو فاز او یو د نول لین انتقالیږي او د یو فازه میټر په بسته کولو سره برېښنا ورکول کیږي. د کوم ترتیب چي یو څه دا ډول وي ، چي تر ټولو لومړنی یا سور فاز په اخیستلو او د مشترک نول په نیولو سره دا دوه لینونه اول محل ته ورکړل شي.




له دغه وروسته دویم د فاز لین چي په ژیړ رنګ سره ښودل شوي په اخستلو سره او د مشترک نول لین په نیولو سره دا دوه لینونه بیا دویم محل ته انتقال کړل شي او دغه وروسته تر ټولو آخیرنی یا دریم فاز لین چي په شین رنګ سره ښودل شوي په اخستلو سره او د مشترک نول لین په نیولو سره دا دوه لینونه بیا دریم محل ته انتقال کړل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library




ګرانو لوستونکو دا ۴ لینه چي وي په کوم کي لومړني ۳ لینونه د فاز او څلورم لین د نول وي ، نو په دوي د هرو ۲ فازونو تر منځ که هغه اول او دویم فاز وي ، که دویم او دریم فاز وي او که هغه دریم او اول فاز وي د دوي تر منځ چي کوم پوتانشیلي تفاوت وي یا کوم ټرمینل ولټیج چي وي هغه ته موږ line voltage یا line to line voltage وایو د کوم سمبول چي vll دي د دوي اندازه له 380v څخه تر 415v(v معنا ولټ) پوري وي یا د دوي تر منځ تر 400v پوري وي.




په همداسی توګه د هر فاز او نول تر منځ پوتانشیلی تفاوت ته phase voltage یا line to neutral voltage وایي د کوم سمبول چي VLN دی د کوم اندازه چي 220V څخه تر 240V پوري ده.مګر اساسی حد یی220V دی.

اوس نو کوم عام او کورني مشتریان یا مصرف کوونکي چي وي د کوم د مصرف اندازه چي 5KW(KW معنا کیلوواټ) څخه کم وي.د یو فازه میټر په واسطه یو فازه SUPPLY(SINGLE PHASE SUPPLY) د 2 CORE کیبل په واسطه ورکول کیږي او له دغه څخه لوړ چي کوم د برېښنا مصرف کوونکي دي یعني کوم غټ مشتریان چي وي لکه فابریکي ، د کوم د مصرف اندازه چي له 10KW څخه لوړ وي ، هغوي ته یو دانه سه فازه میټر په بسته کولو سره 3 PHASE 4 CORE کیبل په واسطه په مستقیمه توګه د ۳ فازو او یو نول کنکشن ورکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيږي او وروسته د برقي شبکو يا کمپنيانو په واسطه د سه فازه او يو فازه مشتريانو لپاره جلا جلا بيلان تيارول کيږي.

| SRO 660 (I)/2019 | | June 28 2019 | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| A-1 GENERAL SUPPLY TARIFF - RESIDENTIAL | | | | | | | | |
| Sr. No. | TARIFF CATEGORY / PARTICULARS | FIXED CHARGES Rs/kW/M | APPLICABLE VARIABLE CHARGES Rs./kWh | | Applicable Variable Charges W.E F. 01-01-2019 Rs / KWh | | Applicable Uniform Qtrly 1st & 2nd Adjustment W.E F. 01-07-2019 Rs / KWh | |
| a) | For Sanctioned load up to 5 kW | | - | - | - | - | - | - |
| i | Up to 50 Units | - | - | 4.00 | - | 2.00 | - | - |
| | For Consumption exceeding 50 Units | | - | - | - | - | - | - |
| ii | 1- 100 Units | - | - | 10.87 | - | 5.79 | - | - |
| iii | 101- 200 Units | - | - | 14.00 | - | 8.11 | - | - |
| iv | 201- 300 Units | - | - | 15.58 | - | 10.20 | - | - |
| v | 301- 700 Units | - | - | 16.85 | - | 17.60 | - | - |
| vi | Above 700 Units | - | - | 18.95 | - | 20.70 | - | 0.75 |
| b) | For Sanctioned load exceeding 5 kW | - | | | | | - | 0.75 |
| | | | Peak | Off-Peak | Peak | Off-Peak | Peak | Off-Peak |
| | Time Of Use | - | 17.59 | 10.11 | 20.70 | 14.38 | 0.75 | 0.75 |
| As per the Authority's decision residential consumers will be given the benifits of only one previous slab. | | | | | | | | |
| While calculating the AQTA charges against Domistic Tariff [A-1(a)] ,no previous slab benefit will be given | | | | | | | | |
| Under tariff A-1, there shall be minimum monthly customer charge at the following rates even if no energy is consumed. | | | | | | | | |
| a) Single Phase Connections: | | Rs. 75/- per consumer per month | | | | | | |
| b) Three Phase Connections: | | Rs. 150 /- per consumer per month | | | | | | |

دا موضوع خو د single phase او three phase وايرينګ په اړه وه .

په همداسې ورووسته په ماشينانو کې هم جلا جلا کټګورياني يا ډولونه شته . ځيني ماشينان په يو فازه supply باندې کار کوي ، ځيني ماشينان په سه فازه supply کار کوي. په همداسې ډول ددغه ماشينانو په داخل کې چې کومه سيم پيچي وي هغه هم يا يو فازه سيم پيچي وي يا سه فازه سيم پيچي وي.

نو ګرانو ملګرو دا وو په برېښنا کې د يو فاز او سه فاز توله پروسه وه يعني په بنيادي توګه سره اساسي supply سه فازه وي او موږ له ۳ فازونو څخه يو فاز او مشترک نول په اخيستلو سره د کور وسايل روښانه کوو .

اميد لرم چې دغه ليکنه به ستاسو لپاره مفيده او ګټوره تمامه شوې وي

***پای***

**۱۴۰۴/۱/۲۲**

***انجينرجليل خان آرمان***

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**